# امر بالمعروف او نهی عن المنکر د چا دنده ده

مولوی نورالحق مظهری

**لنډیز**

امر بالمعروف او نهی عن المنکر، یا په بل تعبیر مسلمانانو ته تبلیغ کول هغه کړنه ده چې په مټ یې په ټولنه کې اصلاح راځي او د منکراتو ټغر ټولیږي؛ له همدې امله په اسلام کې ورته ډېر لوی مقام ورکول شوی دی او په قرآن کریم، احادیثو، آثارو او فقهه کې یې په اړه ډېر تفصیلي مسائل راغلي دي چې د ټولو څخه همدغه خبره ثابتیږی چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر په عملي بڼه تر خپله وسه د هر مسلمان دنده ده تر یوې خاصې ډلې او طبقې پورې ځانګړی نه دی، البته د پیچلو شرعي مسائلو بیان د علماوو کرامو کار دی او په اجبار باندې خلک له منکراتو څخه راګرځول د حاکم اسلامي نظام کار دی.

ځیني شبهات چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په اړه د ځینو کسانو له خوا واردیږي د همدې لیکنې په دوام کې به پوره د قناعت وړ جواب ورته وویل شي او ددې خبرې اثبات به وشي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر تر خپله وسه د هر مسلمان دنده ده.

**کلیدي کلمات:** امربالمعروف او نهی عن المنکر، د امر بالمعروف تعمیم، د قرآن کریم څخه دلائل، د احادیثو څخه دلائل، عقلي او فقهي دلائل، شبهه، د شبهې جواب.

**سريزه**

الحمدلله رب العالمين والصلاة والسلام على اشرف الأنبياء والمرسلين وعلى آله و صحبه اجمعين وعلى من تبعهم بإحسان إلى يوم الدين. اما بعد!

امر بالمعروف او نهی عن المنکر هغه مقدسه دنده ده چې الله تعالی یې د عملي کولو لپاره ګڼ شمېر انبیاء کرام رالېږلي، په قرآن کريم او احاديثو کې یې مسلمانانو ته د هغه د عملي کولو لپاره ډېري سپارښتنې او ارشادات کړي او پر نه عملي کولو یې ډېر سخت عذاب ذکر کړی دی.

امر بالمعروف و نهی عن المنکر د ټولنې د اصلاح لپاره هغه مؤثره نسخه ده چې د بشريت له پیل څخه بیا تر اوسه پورې په ځلونو تجربه شوې ده او د انسانانو پر هر قشر یې مثبت تأثيرات ليدل شوي دي. د امر بالمعروف و نهی عن المنکر ارزښت ته په پام داسي ويلای شو چې:

امر بالمعروف او نهی عن المنکر يواځې د علماؤو وظيفه نه ده؛ بلکې د شرايطو سره سم د ټولو مسلمانانو وظيفه ده او هر مسلمان په دې باندي مکلف دی چې له خپل توان سره سم او د خپلي پوهې په اندازه په اسلامي ټولنه کې امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي.

ددغي مدعی د ثبوت لپاره غواړو د قرآن، حديث، فقهي او عقل څخه کره او ښکاره دلائل راوړو او هر استدلال تر جدا عنوان لاندي ذکر کړو.

## ۱- د قران کریم څخه دلائل

**۱– ۱ – لومړی دلیل:** كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُمْ مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُونَ.[۱]

ژباړه: تاسو ډېر غوره امت یاست، چې ایستل شوي یاست لپاره د خلکو، تاسو امر بالمعروف و نهی عن المنکر کوئ، او په الله باندي ایمان لرئ، او که چیري اهل کتابو ایمان راوړی وای نو د دوئ لپاره به ډېره غوره وای، د دوي څخه ځیني مسلمانان دي، خو ډېری یې فاسقان دي.

په دې آیت شریف کې خطاب ټول امت ته دی، ځکه په لفظ د "کنتم" سره یوه خاصه طبقه خلک مراد نه دي، بلکې امت محمدي صلی الله علیه وسلم ته خطاب دی وروسته چې کومه خبره د امر بالمعروف او نهی عن المنکر راغلې ده هغه هم عامه ده ټول امت ته شامله ده او د هر چا وظیفه ده.

ځکه نو دا واضحه شوه، چې له اصولو سره سم امر بالمعروف و نهی عن المنکر د هر چا دنده ده او تر کومي خاصې ډلې پورې ځانګړې نه ده.

**۲– ۱ – دویم دلیل:** وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلاَةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُوْلَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ.[۲]

ژباړه: نارینه مسلمانان او ښځې مسلمانانې ځیني یې د ځینو نورو دوستان دي، امر بالمعروف کوي او نهی عن المنکر کوي، لمونځونه کوي او زکاتونه ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي ډېر ژر دی چې الله پاک به پر دغو خلکو باندي خپل رحمت وکړي، بیشکه الله زورور او حکمت والا دی.[۲]

په دې آیت شریف کې الله پاک بې له کوم تقسیم او توپیره مسلمانان سره دوستان بللي او د هغوی دنده یې د یو بل په مقابل کې دا ښودلې ده چې هغوی امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، همدا راز لمونځونه کوي او...

نو لکه څنګه؛ چې لمونځ، زکاة او د الله (ج) اطاعت د هر چا وظیفه ده همدا راز امر بالمعروف او نهی عن المنکر هم د هر چا دنده ده، مګر دا چې د یو شرعي عذر له وجه الله پاک د چا څخه ساقط کړی وي.

---

۱ - سورة آل عمران، ۱۱۰

۲ - سورة توبه، ۷۱

۲- تفسیر دیوبندی، ج ۲، ص ۵٦۹

**٣ – ١ – دريم دليل:** التَّائِبُونَ الْعَابِدُونَ الْحَامِدُونَ السَّائِحُونَ الرَّاكِعُونَ السَّاجِدُونَ الْآمِرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّاهُونَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحَافِظُونَ لِحُدُودِ اللَّهِ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ.[٣]

ژباړه: توبه کوونکې، عبادت کوونکې، حمد ويونکې، روژه نيوونکې، رکوع کوونکې، سجده کوونکې، په معروف باندي امر کوونکې او له بد کار څخه نهی کوونکې او د الله پر حدودو باندي حفاظت کوونکې او مسلمانانو ته د جنت زېرى ورکړه[٤].

په دې آيت کې الله پاک د مومنانو ستاينه په ډېرو صفاتو سره کړې ده چې له هغو څخه يو دغه دى چې دوى امر بالمعروف او نهی عن المنكر کوي، نو لکه څنګه چې نور کارونه د هر رښتيني مسلمان صفت دى امر بالمعروف هم د هر مسلمان صفت دى او تر يوې خاصې ډلې پورې خاص نه دى.

**٤– ١ – څلورم دليل:** لَيْسُوا سَوَاءً مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ أُمَّةٌ قَائِمَةٌ يَتْلُونَ آيَاتِ اللَّهِ آنَاءَ اللَّيْلِ وَهُمْ يَسْجُدُونَ ﴿١١٣﴾ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَأُولَئِكَ مِنَ الصَّالِحِينَ. ﴿١١٤﴾ [٥]

ژباړه: اهل کتاب ټول يو ډول نه دي د اهل کتابو څخه يوه ډله ده، چې د الله پر دين باندي ولاړه ده، د الله آياتونه د شپې لخوا تلاوتوي او سجده کوي، پر الله او ورځې د آخرت ايمان لري، امر بالمعروف او نهی عن المنكر کوي، د خير په کولو کې تلوار کوي او دغه خلک نيک خلک دي.[٦]

په دې آيت کې الله پاک د هغه اهل کتابو چې ايمان يې راوړى دى د نورو صفتونو په څنګ کې د دوي دا صفت هم ذکر کوي چې دوي امر بالمعروف او نهی عن المنكر کوي، نو لکه نور صفتونه چې په هغو باندي د دوي هر مؤمن متصف کېدلاى شي په دغه صفت باندي هم هر مؤمن د دوي متصف کېدلاى شي، نو امر بالمعروف د هرچا کار دى تنها د علماوو کار نه دى.

**٥– ١ – پنځم دليل:** وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ ﴿٢﴾ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ﴿٣﴾.[٧]

ژباړه: زما دې قسم وي د مازديګر په وخت سره چې هر انسان په تاوان کې دى؛ مګر هغه څوک چې ايمان يې راوړى وي او نيک عمل يې کړى وي، او په حق او صبر باندي يې توصيه کړې وي.[٨]

---

٣- سورة توبه، ١١٢

٤ - تفسير ديوبندى، ج ٢، ص ٥٨٨

٥ - سورة آل عمران، ١١٣ – ١١٤

٦ - تفسير ديوبندى، ج١، ص ١٧٢

٧ - سورة العصر، ١ ـ٣

٨ - تفسير ديوبندى، ج٤، ص٨٦٤

دلته الله پاک د تاواني خلکو ډلې څخه هغه خلک استثناء کړي دي کوم چې په الله یې ایمان راوړی، ښه عمل یې کړی او په حق او صبر باندي یې توصیه کړې وي.

توصیه په حق او صبر باندي همدغه معنی چې نورو ته انسان د حق او صبر سپارښتنه کوي چې دغه په خپله معنی د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ده، لکه په تفسیرقرطبي کې چې ددي آیت په تفسیر کې لیکي: أوصى بعضهم بعضاً، وحث بعضهم بعضاً.[٩]

یعني ځینو و ځینو نورو ته وصیت کړی وي، او ځینو ځیني نور پر دې باندې باعثه کړي وي، نو کله چې په حق او صبر باندې وصیت کول امر بالمعروف شي نو لکه؛ دلته چې په استثناء کې جلا کوونکی صفت د هر مسلمان لپاره راغلی دی نو امر بالمعروف هم د هر مسلمان صفت دی او پر هر چا باندي لازمه ده، چې د خپل علم او توان سره سم امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي.

## ٦- ١ – یوه شبهه

وَلْتَكُن مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ.[١٠]

ځیني خلک په پورتني آیت شریف باندي دلیل نیسي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر یواځې کار د علما ؤو دی هرڅوک یې نشي کولای؛ دوي وایي دلته چې لفظ د "مِن" راغلی دی هغه تبعیضیه دی، نو معنی یې داسې کیږي چې: په تاسو کې به یوه ډله وي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي چې هغه علماء دي. ځکه نو دوي وایي: امر بالمعروف او نهی عن المنکر یواځې کار د علما ؤو دی نورو خلکو ته جائز نه ده چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي.

## ٧- ١ – د شبهې ځواب

ددغو خلکو استدلال او د"من" تبعضیه څخه دغه مقصد اخیستل صحیح نه دی ځکه چې:

پر دې خبره د مفسرینو اتفاق نه دی چې دلته دي "من" تبعیضیه شي، بلکې اختلاف دی ځیني یې تبعیضیه بولي، ځیني یې بیانیه بولي، ځیني یې د دواړو په صحت باندي قائل دي او د هر یوه لپاره توجیه کوي.

خو هغه څوک چې تبعیضیه یې بولي همداسي نه وایي چې دا کار دې یواځې علماء وکړي بلکې هرڅوک کولای شې د خپل علم مطابق امر بالمعروف وکړي؛ خو دلته د"من" فایده فقط دغه ده چې په دې سره هغه فرضیت عیني ساقط شو یعني "من" ددې لپاره راغلی دی، چې دغه دنده فرض عین نه ده؛ بلکې فرض کفایي ده، چې په یوقوم کې یې څو نفره وکړي د نورو ټولو غاړې ورسره خلاصیږي دا یې معنا نه ده، چې یواځې علماء به یې کوي؛ بل څوک به یې نه کوي که څه هم په ځینو مسائلو باندي پوهیږي.

علامه وهبة الزحیلي په خپل تفسیر کې وروسته تر دې چې وایي دغه "من" د تبعیض لپاره دی. وایي:[١١]

---

٩ - تفسیر قرطبی، ص ١٨١، ج ٢٠، المکتبة الشاملة

١٠ - سورةآل عمران، ١٠٤

١١ - و تخصص هذه الفئة بما ذکر لا یمنع کون الأمر بالمعروف والنّهی عن المنکر واجبا علی کلّ فرد من أفراد الأمّة بحسبه. التفسیرالمنیر، ج٤، ص٣٣

ژباړه: یعني د دغې ډلې (علماؤو) د تخصیص په هغه شي سره چې ذکر شو ددې څخه منع نه راوړي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر دې په هر فرد د هغه د قدرت په اندازه واجب وي. وروسته یې په دې باندي د احادیثو څخه دلائل هم راوړي دي.

همدا راز په تفسیر ابي سعید کي راځي: [۱۲]

ژباړه: د خطاب متوجه کېدل ټولو ته سره د نسبته د دعوت بعضو ته لپاره د ثبوت د معنی د فرض کفایي، او ددې لپاره چې دغه په ټولو باندي واجب دی، خو په داسي طریقه چې ځیني يې وکړي نو د نورو څخه ساقطيږي، او که ټول يې پسې پريږدي، نو بیا ټول گناه کاره کيږي؛ وروسته بیا وایي: ولا یقتضي ذلك كونَ الدعوةِ فرضَ عينٍ ، فإن الجهادَ من فروض الكفايةِ مع ثبوته بالخطاب العامِّ.

یعني دا چې "من" دې لپاره د تبیین شي ددغه څخه داسي نه ښکاري چې دا کار دې فرض عین شي، ځکه چې جهاد فرض کفایي دی سره ددې چې په عام خطاب باندي هم ثابت دی.

مقصد يې دا دی، چې دلته که من بیانیه شي فرض عین کیدل يې ورڅخه نه ثابتیږي اوکه تبعیضیه شي، تخصیص يې تر یوې ډلې پوري نه ثابتيږي؛ بلکې فقط د تبعیض څخه یواځې فرض کفایي والی ثابتيږي.

البته په هغه صورت کې چې کفار پر مسلمانانو باندي یرغل وکړي جهاد فرض عین گرځي.

په تفسیر شعراوی کې راځي: [۱۳]

ژباړه: یعني ددې معنی داسي ده چې ای مخاطبینو! په تاسو کې دې یوه ډله وي چې خلک وخیر ته را بولي. همدا راز معنايې داده، چې تاسو ټول امت باید داسي شئ چې خلک خیر ته راوبولئ.

ځیني علماء داسي گمان کوي چې ددغه قول څخه داسي ثابتيږي چې په تاسو کې به یوه ډله وي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، خو دلته تر دې ژور فهم شته هغه دا چې دغه آیت ددې امر کوي چې باید ټوله اسلامي ټولنه داسې امت وي چې و خیرته دعوت ورکړي، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي یعني دا آیت ټولو مسلمانانو ته په دغې دندې امرکوي، نو داسي نشي کېدلای چې یوه ډله دې په امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره خاص کړل شي، بلکې دا ضروري ده چې ټول امت مسلمه دې په معروف باندي امر کوونکې اوسي او د منکر څخه دې منعه کوونکې اوسي، نو چې چا ته یو حکم د احکامو معلوم وي باید په هغه باندي بل چاته هم امر وکړي.

---

۱۲ - فتوجيهُ الخطابِ إلى الكل مع إسناد الدعوةِ إلى البعض لتحقيق معنى فرضيّتِها على الكفاية وأنها واجبةٌ على الكل لكن بحيث إنْ أقامها البعضُ سقطت عن الباقين، ولو أخل بها الكلُّ أثِموا جميعاً. تفسیر ابی سعید، ص ٤٣٠، ج، ١ المكتبة الشاملة.

۱۳ - وقوله الحق سبحانه: وَلْتَكُن مِّنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الخير. هذا القول يعني ان يكون منكم أيها المخاطبون أمة تدعو إلى الخير ، ومعناه أيضا أن تكونوا جميعا أمة تدعو إلى الخير، وبعض العلماء يرى أن هذا القول يعني: أن تكون منكم جماعة يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر. ولكنّ هناك فهما أعمق من هذا، وهو أن هذه الآية تأمر بأن تكون كل جماعة المسلمين أمة تدعو إلى الخير ، وتأمر بالمعروف، وتنهى عن المنكر، إي أن هذه الآية تطالب كُلَّ أمة المسلمين بذلك، فلا تختص جماعة منها فقط بالأمر بالمعروف والنهى عن المنكر، بل الواجب أن تكون أمة المسلمين كلها آمرة بالمعروف، وناهية عن المنكر، فمن يعرف حكما من الأحكام عليه أن يأمر به. تفسير شعراوی، ص ١١١٨، ج ١، المكتبة الشاملة.

او په تفسیر ابن کثیر کي راځي:[١٤]

ژباړه: مقصود د دي آیت څخه دا دی چې باید د دي امت څخه یوه ډله وي چې د دې کار لپاره یې قصد کړی وي، که څه هم دغه کار پر هر فرد باندي د هغه د توان مطابق واجب دی، لکه څنګه چې په صحیح مسلم کې د ابوهریرة رضي الله تعالي عنه په حواله راځې چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې ستاسو څخه یو بد کار ووینې نو په خپل لاس دي تغیر ورکړي، که یې په طاقت نه وه، بیا دې په ژبه تغیر ورکړي اوکه یې په ژبه طاقت نه وه، نو بیا دې په زړه کې ورڅخه کرکه وکړي او دغه د هغه ضعیفه اثر د ایمان دی.

او قاضي ثناء الله فاني پتي رحمه الله په خپل تفسیر کې وروسته تر دې چې دی وايي: دغه "من" د تبعیض لپاره دی؛ ځکه چې امر بالمعروف فرض کفایي دی او بل هرڅوک ددې صلاحیت نلري چې ودي کړي. داسې لیکي: [١٥]

ژباړه: الله پاک ټول مخاطب کړل خو مطالبه یې د بعضو څخه وکړه ددې لپاره چې په دې باندي دلالت وکړي، چې دغه دنده پر ټولو باندي واجب ده، که یې ټول پریږدي ټول ګناه کاره کیږي، خو په کولو سره د ځینو د ټولوله غاړي څخه ساقطیږي چې فرض کفایي همداسي وي.

او داسي هم روا کیږي چې "من" بیانیه شي او نهی عن المنکر دي په هر یوه باندي واجب شي، او کمترینه اندازه یې دا ده چې په زړه کې ورڅخه بد یوسي، یعني تاسو ټول داسي امت شئ چې خلک خیر ته راوبلئ.

په تفسیربغوي کې راځې: وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ. أي: كونوا أمةً، {من} صلة ليست للتبعيض.

یعني دغه "من" د صله زائده دی تبعیضیه نه دی.

په تفسیر الوجیز کې راځې: {ولتكن منكم أمة} الآية. أَي: و ليكن كلُّكم كذلك، و دخلت "مِنْ" لتخصيص المخاطبين من غيرهم. [١٦]

یعني من لپاره د تخصیص د مخاطبینو دی له نورو څخه.

---

١٤- والمقصود من هذه الآية، أن تكون فرقة من هذه الأمة متصدية لهذا الشأن، وإن كان ذلك واجباً على كل فرد من الأمة بحسبه، كما ثبت فى صحيح مسلم، عن أبى هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه وذلك أضعف الإيمان. وفى رواية: وليس وراء ذلك من الإيمان حبة خردل. تفسير ابن كثير، ص ٩١، ج ٢، ٢المكتبة الشاملة.

١٥- خاطب الجميع وطلب فعل البعض ليدل على انه واجب على الكل حتى لو ترك الكل أثموا جميعا ولكن يسقط بفعل بعضهم وهذا شأن فروض الكفاية- وجاز ان يكون من للتبيين ويكون النهى عن المنكر واجبا على كل أحد واقله ان ينكر بقلبه يعنى كونوا أُمَّةٌ يَدْعُونَ الناس إِلَى الْخَيْرِ. التفسير المظهرى، ص ٥٦٧، ج ١.

١٦ - تفسير الوجيز، ص ٩٩، ج ١، المكتبة الشاملة.

امام فخر الدين رازي رحمه الله وروسته تر ذکر کولو د دواړو مذهبينو په لفظ کې د"من" يو ځلي د يوه اعتراض دفعه کوي کوم چې په هغو خلکو باندي واردېږي چې هغوی دغه "من" بيانيه بولي چې ددې څخه دا روښانه شوه، چې دی هم په دغه باور دی چې دغه "من" بيانيه دی، وروسته بيا ليکي: (١٧)

ژباړه: علماؤو ويلي: د فاسق لپاره روا کيږي چې په ښه کار باندي امر وکړي؛ ځکه لکه په ده باندي چې واجب ده پرېښودل د دغه بد کار همدا راز په ده باندي واجب ده منع کول ددغه کار څخه، نو دا چې دی يو واجب پرېږدي، ددې څخه داسي نه لازميږي چې هغه بل واجب دې هم پرېږدي، او سلف صالحينو څخه داسې نقل شوی دی: چې په ښه کار باندي امر وکړئ، که څه هم تاسو يې نه کوی او د حسن رحمه الله څخه نقل دی چې ده د مطرف بن عبدالله څخه واورېدل چې ويل يې: زه هغه شی نه وايم کوم چې نه يې کوم، نو ده ورته وويل: کوم يو زموږ هغه کارکوي چې وايي؟ شيطان خوښ لري چې په دغي خبري باندي پر تاسو کاميابه شي، نو بيا به هيڅوک امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه کوي.

خلاصه: دا ده چې د"من" لفظ څخه نفي د امر بالمعروف او نهی عن المنکر خاص د علماؤو کار نه ښکاري.

البته دا خبره ضروري ده کوم څوک چې چا ته د يو ښه کار دعوت ورکوي او يا يې له بد کاره څخه نهی کوي هغه بايد د هغه کار او هغې خبري حکم ښه زده کړی وي بيا د نورو خلکو ته ووايي؛ که يې نه وي زده کړی بيا يې هم خلکو ته وايي، نو بيا داسي سړي ته لازمه نه ده، چې په خلکو دي امر او نهی وکړي آن تر دې چې يو عالم ته مسئله پوره معلومه نه وي نشي کولای هغه خلکو ته په يقيني ډول بيان کړي.

مثلا؛ که چا د لمانځه مسائل د يوه عالم څخه ښه زده کړي وي، هغه سړی کولای شي دغه مسائل نورو خلکو ته هم بيان کړي او يا چا د معاملاتو او سودا ګانو مسائل ښه زده کړي وي دغه سړی کولای شي نورو خلکو ته يې هم بيان کړي.

نو کومو علماؤو چې د تبليغ لپاره علم شرط بللی دی موخه يې دا نه دی چې هغه مبلغ بايد مولوي صاحب وي يا مولانا صاحب وي، ليسانس يا دکتورا ولري، بلکې هدف يې دا دی چې د کوم شي تبليغ چې کوي د هماغه شي عالم وي؛ يعني کوم شی چې دی يې نورو ته وايی خپله به يې سم زده کړي وي.

نو د تبليغ لپاره يا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لپاره دا شرط نه دی، چې تبليغ کوونکې بايد د ټولو علومو څخه فارغ وي يا د احاديثو څخه فارغ وي او دا هم شرط نه دی، چې په نامه د مولوي صاحب يا په نامه د مولانا صاحب دي وي، بلکې څومره شی

١٧ - والعلماء قالوا: الفاسق له أن يأمر بالمعروف لأنه وجب عليه ترك ذلك المنكر ووجب عليه النهی عن ذلك المنكر، فبأن ترك أحد الواجبين لا يلزمه ترك الواجب الآخر، وعن السلف: مروا بالخير وإن لم تفعلوا، وعن الحسن أنه سمع مطرف بن عبد اللّه يقول: لا أقول ما لا أفعل، فقال: وأينا يفعل ما يقول؟ ودّ الشيطان لو ظفر بهذه الكلمة منكم فلا يأمر أحد بمعروف ولا ينهی عن المنكر. تفسير مفاتيح الغيب، ص ١٤٧، ج ٨، المكتبة الشاملة.

چې د هر چا زده وي هغه د هماغه شې عالم بلل کيږي او شرعا کولای شي کوم شيان چې يې زده وي نورو ته يې د تبليغ يا امر بالمعروف او نهی عن المنکر په شکل ورسوي.

**۲- د احاديثو څخه دلائل**

**۱ – ۲ – لومړی دليل:** عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: بَلِّغُوا عَنِّي وَلَوْ آيَةً.[۱۸]

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ورسوئ له ما څخه که څه هم په اندازه د يوه آيت وي.

که ددي حديث تأکيد ته وکتل شي چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم د ځانه څخه د تبليغ په رسولو باندي امر کوي، نو دا خبره به ښه روښانه شي چې امر بالمعروف د هر چا کار دی.

ځکه؛ لکه د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د قول او يا فعل رسول چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم يې د رسولو امرکړي دی د هر چا دنده ده امر بالمروف چې د الله د دين رسول دي، هم د هر چا دنده ده او دلته د دين په رسولو کې هيڅ قسم اختصاص تريوې ځانګړي ډلې پوري نشته.

البته لکه مخکې مو چې وليکل، کوم شی چې څوک يې بل چاته رسوي دا خبره ضروري ده چې بايد سمه او پوره يې زده وي. په فيض القدير کې يې ددې حديث په شرح کې ليکلي دي: [۱۹]

ژباړه: دا قول د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم چې که څه هم يوآيت وي: يعني يوه د کامل کېدلو او رسېدلو علامه وي، يعني که څه هم هغه رسوونکی شی، يوکار وي او يا د لاس او ګوتي غوندي اشاره وي د شريعت د ساتنی لپاره يې رسول ضروري دي.

يعني که هرڅومره لږ او لنډه خبره او يا کار وي چې هغه د رسول اکرم صلي الله عليه وسلم څخه ثابت وي بايد سړی تر نورو پوري ورسوي.

**۲ – ۲ – دويم دليل:** عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ : نَضَّرَ اللَّهُ عَبْدًاسَمِعَ مَقَالَتِي فَوَعَاهَا، ثُمَّ بَلَّغَهَا عَنِّي، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ غَيْرِ فَقِيهٍ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ. [۲۰]

ژباړه: د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم صلي الله عليه وسلم وفرمايل: الله پاک دې خوشحاله او تازه کړي مخ د هغه چا چې زما خبره واوري، نو ښه يې ياده کړي، بيا يې زما له خوا (نورو ته) ورسوي، داسي پيښيږي چې وړونکي د فقه (علم) فقيه نه وي، او داسي هم پيښيږي چې وړونکی د فقه(علم) و هغه چاته وي چې هغه تر ده ډېر فقيه وي.

---

۱۸ - صحيح البخاري، ۳٤٦۱.

۱۹ - وقوله ولو آية أي علامة تتميم ومبالغة أي ولو كان المبلغ فعلا أو إشارة بنحو يد أو أصبع فإنه يجب تبليغه حفظا للشريعة. فيض القدير شرح جامع الصغير، ۳۱۵۹.

۲۰- سنن ابن ماجة، ۲۳٦.

يعني كله كله داسي كيږي چې د چا سره دې علم وي خو دی دې ور څخه داسي استنباط او اخذ ونه کړي لکه هغه څوک چې دده څخه يې زده کوي.

په دې حديث کې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم هر هغه چاته دعاکړې ده، چې دده حديث نورو ته ورسوي؛ هغه که څه هم يوه خبره وي.

په دې حديث کې داسي نه دې ويل شوي چې زما د خبرې د رسولو لپاره دا شرط دی چې رسوونکې به يې په تمامه معنی او په هره برخه کې عالم وي؛ بلکې چې يواځی يو حديث يې سم اورېدلی وي هغه کولای شي هماغه حديث نورو ته ورسوي.

د نورو شرعي مسائلو او فضائلو حکم هم همدغه دی څوک چې يوه شرعي مسئله او يا يوه خبره يې سمه زده کړې وي هغه کولای شي هغه خبره تر نورو پوري د تبليغ او يا امربالمعروف په بڼه ورسوي که څه هم په نورو برخو کې دی عالم نه وي.

**۳ – ۲ – دريم دليل:** عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ:« لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْ عِنْدِهِ ثُمَّ لَتَدْعُوُنَّهُ فَلاَ يَسْتَجِيبُ لَكُمْ.»[۲۱]

ژباړه: د حذيفه بن اليمان رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو به ضرور امر بالمعروف او نهی عن المنکرکوئ، او يا به  الله درباندي د خپل جانبه څخه عذاب نازل کړي، بيا به دعا کوي خو الله به يې در څخه نه قبلوي.

دلته چې کوم امر په امر باالمعروف او نهې عن المنکر باندي او بيا درباندي وعيد راغلی دی عموما د هر هغه چا لپاره دی چې په امر بالمعروف او نهی عن المنکر باندي توان او طاقت ولري خو بيا يې هم پرېږدي.

اوس که په اصطلاح مولوي صاحب يا مولانا صاحب له توان  سره امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېږدي او که هغه څوک چې يوه يا څو مسئلې يې ښې زده وي او د تبليغ کولو توان يې هم ولري خو بيا يې هم نورو ته نه رسوي ټول په دې حکم کې داخل دي.

داسي حکم نه دی راغلی چې که يواځې عالم د امربالمعروف او نهی عن المنکر څخه ډډه وکړه نو هغه به د داسي عذاب سره مخامخ کيږي.

**٤– ۲ – څلورم دليل:** عَن أَنَسٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ.[۲۲]

---

۲۱- سنن الکبري للبيهقي، ۲۰٦۹٤.

۲۲- صحيح مسلم، ۱۳٦.

ژباړه: حضرت انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې ستاسوڅخه يو بد کار ووينى نو په خپل لاس دې تغير ورکړي که يې په طاقت نه وه بيا دې په ژبه تغير ورکړي او که يې په طاقت نه وه نو بيا دې په زړه کې ورڅخه کرکه وکړي، او دغه هغه ضعيفه اثر د ايمان دی.

په فيض القدير کې ددې حديث په توضيح کې ليکي: [٢٣]

ژباړه: که هغه امر کړل شوی کار ښکاره وي لکه لمونځ او روژه نو دا خاص په علماؤو پوري نه دی (هرڅوک يې کولای شي) اوکه ظاهر نه وو (بلکې پيچلي مسائل وه) نو هغه په علماوو پوري خاص دې او يا په هغه چا پوري چې له علماؤو څخه يې زده کړي وي.

لومړی د حديث د تعميم څخه بيا د فيض القدير د عبارت د تصريح څخه په ډاګه دا معلوميږي چې امر بالمعروف او نهی عن المنكر يا په بل عبارت تبليغ کول يواځې د علماوو دنده نه ده، بلکې د هر مسلمان دنده ده؛ فرق نلري که مولوي صاحب او مولاناصاحب وي او که داسې نفر وي چې يوه يا څو مسئلې يې سمې زده کړې وي هر يو يې بايد د امربالمعروف او نهي عن المنكر او يا د تبليغ په ښه نورو مسلمانانو ته ورسوي.

### ۳ – بله شبهه او د هغې ځواب

ځيني هغه خلک چې امر بالمعروف يواځې د علماؤو دنده بولې او غير علماؤو ته يې روا نه بولې په لاندي قيصې سره دليل نيسي. [٢٤]

ژباړه: حضرت علي رضي الله عنه جومات ته داخل شو، نو يو سړی يې وليده چې خلک وېروي. نو وويل: دا څوک دی؟ خلکو وويل: يو سړی دی چې خلکو ته تبليغ کوي، ده ورته وويل: دا سړی خلکو ته تبليغ نه کوي بلکې وايې: زه فلانی د فلاني زوی يم ما وپيژنئ، نو يو سړی يې ور واستاوه، هغه ورته وويل: آيا ته ناسخ د منسوخ څخه پيژنې؟ ده وويل نه. نو حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل: زموږ د جومات څخه ووځه! دلته خلکو ته تبليغ مکوه، په بل روايت کې راځې چې ده ورته وويل: آيا ته ناسخ او منسوخ پيژنې؟ نو هغه ورته وويل: نه(نه يې پيژنم) نو حضرت علی رضي الله عنه ورته ويل: خپله هم هلاک شوې او خلک دې هم هلاک کړ.

دوي داسي وايې: موږ د حضرت علي رضي الله عنه پسې اقتداء کوو او د هر هغه چا لپاره چې ناسخ او منسوخ نه پيژني يعني عالم نه وي تبليغ روا نه بولو، بلکې تبليغ د هغه چا لپاره روا بولو چې ناسخ او منسوخ وپيژني يعني عالم وي.

---

٢٣- ثم إن كان المأمور ظاهرا كصلاة وصوم لم يختص بالعلماء وإلا اختص بهم أو بمن علمه منهم.[فيض القدير شرح جامع الصغير، ص١٦٩، ج ٦ ، المكتبة الشاملة]

٢٤- دخل على رضى الله عنه المسجد فإذا رجل يخوف الناس ، فقال: ما هذا؟ قالو: رجل يذكر الناس، فقال: ليس برجل يذكر الناس! لكنه يقول أنا فلان ابن فلان فاعرفونى، فأرسل إليه فقال: أتعرف الناسخ من المنسوخ؟ فقال: لا، قال: فاخرج من مسجدنا ولا تذكر فيه. وفى رواية أخرى: أعلمت الناسخ والمنسوخ؟ قال: لا، قال: هلكت وأهلكت! ومثله عن ابن عباس رضى الله عنهما.[تفسير قرطبى، ص ٦٢، ج ٢، المكتبة الشاملة]

دغو خلکو ته باید وویل شي چې سره ددې چې دغه قیصه په څو ډوله باندي راغلې ده، بیا هم ورڅخه داسې نښې ثابتېدلای چې امر بالمعروف دي یواځې د علماؤو دنده وي نورو ته دې د امر بالمعروف جواز هیڅ نه وي.

ځکه؛ چې یو څو په کومو کتابونو کې چې دغه قیصه راغلې ده، هغوی ورڅخه دغه استنباط نه دی کړی، لکه په تفسیر قرطبي کې چې یې مخکې تر ذکر کولو ددې قیصې لیکلي: (٢٥)

ژباړه: پېژندل د باب د نسخ ډېر مهم دي او ډېره فایده لري او د پېژندلو څخه یې هیڅ عالم مستغني نه دی، او ددې څخه انکار نه کوي؛ مگر هغه څوک چې ناخبره او تنبل وي، پخاطر د هغه پیښو او احکامو او پېژندل د حلال د حرام څخه چې په دغه باب باندي مرتب دي.

دلته د ذکر څخه ددې قیصې د قرطبي مقصد دا دی چې باید سړی ځان په ناسخ او منسوخ باندي خبرکړي، ځکه چې دا ډېره مهمه خبره ده او انسان ورته تل اړتیا لري.

خو دا خبره ورڅخه نه معلومیږي چې تبلیغ کول، او امر بالمعروف او نهی عن المنکر کول دي په پېژندنې د ناسخ اومنسوخ موقوف وي، ځکه مبلغ کولای شي چې داسې مسائل تبلیغ کړي چې په هغو کې د نسخ خبره نه وي راغلې همدا راز آمر د معروف کولای شي چې خلک پداسې مسائلو باندي امر کړي چې په هغو کې د نسخ خبره نه وي راغلې او یا خلک د داسې کارونو څخه منع کړي چې د هغو د نسخ سره هیڅ تړاو نه وي؛ بلکې مشهور مسائل وي.

او بله خبره دا ده چې دلته حضرت علي رضي الله عنه دغه سړی د جومات څخه ایستلی دی، علت یې دا نه وو چې هغه ناسخ او منسوخ نه پېژندل بلکې علت یې داوو چې هغه سړي د ځان تعریف کاوه؛ لکه ده چې خپله په دې قیصه کې ویلي دي: «فقال : لیس برجل یذکر الناس! لکنه یقول أنا فلان ابن فلان فاعرفوني.» یعني حضرت علي رضی الله تعالی عنه وویل: دا سړی خلکو ته تبلیغ نه کوي بلکې وایې: زه فلانی د فلاني زوی یم ما وپیژنئ!

نو له دي څخه داسې ښکاري چې دغه سړی د ځان تعریف او تزکیه کوله، کوم چې شرعاً ناروا دی، ځکه نو حضرت علي دا خبره ورته کړې ده ترڅو دی په دې باندي پوه شي چې دی اهل ددې نه دی، کوم چې دی یې دعوی کوي.

او له نورو کتابو څخه چې دغه قیصه پکښې راغلې ده داسې ښکاري چې دې سړی ډېري گډې وډې او پیچلي خبري کولې، چې هیڅ فایده ورباندي مرتبه نه وه، ځکه حضرت علی رضی الله عنه د ته دغه خبره کړې ده او دی یې له جومات څخه ایستلی دی. (٢٦)

---

٢٥- معرفة هذا الباب أكيدة وفائدته عظيمة، لا يستغنى عن معرفته العلماء، ولا ينكره إلا الجهلة الأغبياء، لما يترتب عليه من النوازل فى الأحكام، ومعرفة الحلال من الحرام.[تفسير قرطبى، ص ٦٢، ج ٢، المكتبة الشاملة]

٢٦- وقد روى عن أمير المؤمنين على بن أبى طالب كرم الله وجهه: أنه دخل يوما مسجد الجامع بالكوفة، فرأى فيه رجلا يعرف بعبد الرحمن بن داب، وكان صاحبا لأبى موسى الأشعرى - رضى الله عنه - وقد تحلق عليه الناس يسألونه، وهو يخلط الأمر بالنهى، والإباحة بالحظر، فقال له علي رضى الله: أتعرف الناسخ من المنسوخ؟ قال:

ژباړه: داسي روايت راغلی دی چې علی بن ابی طالب رضی الله عنه يوه ورځ د کوفی جامع جومات ته داخل شو، يو کس يې وليده چې په عبدالرحمن بن داب باندي پېژندل کېده او د ابوموسی اشعری رضی الله عنه ملگری وو؛ خلک ور باندې راټول وو پوښتنې يې ورڅخه کولې ده به امر د نهی سره او رواوالی د منعې سره يوځاې کول، علی رضی الله عنه ورته وويل: آيا ته ناسخ او منسوخ سره پېژنې؟ هغه ورته وويل: نه، علی رضی الله عنه ورته وويل: ځان دې هم هلاک کړه او نور دې هم هلاک کړه، ته د چا پلار يې؟ هغه ورته وويل: زه د يحيا پلار يم، علی رضی الله عنه ورته وويل: ته ما وپېژندلې پلار يې؛ له غوږ نه يې و نيوه او تاو يې که او ورته يې وويل: زموږ په جومات کې قيصې مکوه.

په دې ځای کې صراحتا راغلي دي چې «وقد تحلق عليه الناس يسألونه، وهو يخلط الأمر بالنهي، والإباحة بالحظر» يعني خلک ورباندي راټول شوي وو د ده څخه يې پوښتنې کولې، ده ورته ځوابونه ورکول داسي چې امر به يې د نهي سره ګډا وه او نهی به يې د امر سره او إباحت به يې د منع سره.

نو ځکه وروسته حضرت علی رضی الله عنه ورته وويل: ځان دې هم هلاک کړه او خلک دې هم هلاک کړل ځه زموږ د جومات څخه وځه!

او د ځينو نورو کتابونو څخه داسي ښکاري چې حضرت علي رضي الله عنه دغه سړي ته هغه خبرې کړې دې په دې خاطر چې يا يې د ځان تعريف کاوه، يا يې ګډوډ مسائل خلکو ته بيانول او يا يې خلکو ته قيصې کولې.

په دې خاطر نه وو چې هغه عام تبليغ کاوه خو ناسخ او منسوخ ورته معلوم نه وو.

نو له پورته قيصې څخه دا استدلال ناسم دې چې امر بالمعروف دې يواځې د علماؤو دنده وي نه ده نورو خلکو.

### ٤- امر بالمعروف او نهی عن المنكر د فقهي او عقلي دلائلو په رڼا کې

که سړی په دقت او ډيرې ځيرکتيا سره د امربالمعروف او نهی عن المنکر فايدو اوګټو ته وګوري او فعلي چټک تأثير ته يې پام وکړي، نو ضرور به له ځان سره د دې خبرې حکم وکړي چې امربالمعروف يواځې د علماؤو دنده نه ده؛ بلکې د هر مسلمان دنده ده.

ځکه کله چې يو څوک خپل اولاد او يا خپل يو دوست او يا هم يو بل مسلمان ويني چې د الهی فرض په پرېښودلو او يا هم د يوه منعه شوې کار په کولو بوخت وي ضرور به ورته امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، تر دې پورې صبر نه کوي، چې لاړ شي يو عالم خبر کړي چې هغه راشي او دغه سړی له دغه کار څخه منع کړي.

---

لا، قال: هلكت وأهلكت، أبو من أنت؟ فقال: أبو يحيى، فقال له علی رضی الله عنه: أنت أبو اعرفونی. وأخذ أذنه ففتلها، فقال: لا تقصن فی مسجدنا بعد. الناسخ والمنسوخ لإبن سلامة، ص ١، ج١، المكتبة الشاملة.

ځکه کوم مسلمان چې د خپلې مسلمانۍ مهمه او أساسي دنده او هغه ربښتینی فطرتي ایثار چې: «د بل مسلمان لپاره د هغه شي غوښتل دي کوم چې انسان یې د ځان لپاره غواړي، لکه څنګه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یې راته معرفي کوي: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِه.[٢٧]

یعني تر هغه وخته پوري یو له تاسو څخه پوره مسلمان نشي کېدلای تر څو چې هغه شی چې د ځان لپاره یې غواړي د بل مسلمان لپاره یې هم وغواړي» ښه یی درک کړې نو دا به ورته ښه واضحه شي چې امر بالمعروف زما او د هر چا دنده ده، یواځې د یوې خاصې طبقې د خلکو لازمي دنده نه ده.

او دا معلومه خبره ده چې هیڅ مسلمان د ځان لپاره بدبختي نه غواړي که په دنیا کې وي او که په آخرت کې، نو چې کله یې ځانته نه غواړي باید بل مسلمان ته یې هم ونه غواړي؛

چې ددې خبرې او کار اثبات په دغه باندي کیږي، چې مسلمان دې نورو ته هم د ځان په سترګه وګوري، ځانته غوره شوي شیان د هغه ته هم غوره کړي او د ځان لپاره دي نه خوښېدونکي شیان هغه ته هم نه خوښوي.

همدا راز دا هم د سالم فطرت او مسلمانۍ غوښتنه ده، چې کله یو مسلمان په یوه ټولنه کې په دین باندي د خلکو ناخبري ویني او دی کولای شي لږ تر لږه یوه مسئله یا دوې مسئلې هغوی ته ور زده کړي نو باید دېته و نه ګوري چې دی مولوي دی او که نه دی مولانا صاحب دی او که نه دی؟ د احادیثو څخه فارغ دی او که نه دی؟ بلکې چې خومره شی یې سم زده وي تر نورو یې باید ورسوي.

په همدي خاطر امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته شرعاً لوی حیثیت او اعتبار ورکول شوی دی آن تر دې پورې چې په ځینو کتابونوکې یې د هغه پرېښودل سره له دې چې قدرت ورباندې ولري، لویه ګناه بللې ده، لکه په الجوهرة النیرة کې چې راځي:[٢٨]
ژباړه: پرېښودل د امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره د قدرت درلودلو لویه ګناه ده.

او په خاطر د همدغه لوړ شان د امر بالمعروف او نهی عن المنکر او په کتني توان او قدرت د انسان علماء کرامو امر بالمعروف او نهی عن المنکر په څو اقسامو باندي وېشلی دی، لکه په ځینو فقهي کتابونوکې چې راځي: [٢٩]

---

٢٧- صحیح البخاری، ١٣.

٢٨- وَمِنْ الْكَبَائِرِ.........وَتَرْكُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيِ عَنْ الْمُنْكَرِ مَعَ الْقُدْرَةِ.[الجوهرة النيرة، ص ٤٥٦، ج٥، المكتبة الشاملة]

٢٩- ذَكَرَ الْفَقِيهُ فِي كِتَابِ الْبُسْتَانِ أَنَّ الْأَمْرَ بِالْمَعْرُوفِ عَلَى وُجُوهٍ إنْ كَانَ يَعْلَمُ بِأَكْبَرِ رَأْيِهِ أَنَّهُ لَوْ أَمَرَ بِالْمَعْرُوفِ يَقْبَلُونَ ذَلِكَ مِنْهُ وَيُمْنَعُونَ عَنْ الْمُنْكَرِ فَالْأَمْرُ وَاجِبٌ عَلَيْهِ وَلَا يَسَعُهُ تَرْكُهُ وَلَوْ عَلِمَ بِأَكْبَرِ رَأْيِهِ أَنَّهُ لَوْ أَمَرَهُمْ بِذَلِكَ قَذَفُوهُ وَشَتَمُوهُ فَتَرْكُهُ أَفْضَلُ ، وَكَذَلِكَ لَوْ عَلِمَ أَنَّهُمْ يَضْرِبُونَهُ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى ذَلِكَ وَيَقَعُ بَيْنَهُمْ عَدَاوَةٌ وَيَهِيجُ مِنْهُ الْقِتَالُ فَتَرْكُهُ أَفْضَلُ ، وَلَوْ عَلِمَ أَنَّهُمْ لَوْ ضَرَبُوهُ صَبَرَ عَلَى ذَلِكَ وَلَا يَشْكُو إلَى أَحَدٍ فَلَا بَأْسَ بِأَنْ يَنْهَى عَنْ ذَلِكَ وَهُوَ مُجَاهِدٌ وَلَوْ عَلِمَ أَنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ مِنْهُ وَلَا يَخَافُ مِنْهُ ضَرْبًا وَلَا شَتْمًا فَهُوَ بِالْخِيَارِ وَالْأَمْرُ أَفْضَلُ كَذَا فِي الْمُحِيطِ. الفتاوي الهندية، ص٤٥٥، ج ٤٣، المكتبة الشاملة– البحرالرائق، ص ٣٢٦، ج ٢١، المكتبة الشاملة.

ژباړه: فقيه ابوليث رحمه الله په کتاب البستان کې ذکر کړي دي: امر بالمعروف په څو قسمه دی: که چيري سړی په خپل ډېرګمان باندي پوهېدی چې که دی امر بالمعروف وکړي نو خلک يې ورڅخه قبلوې او له بد کاره څخه منع کيږي پر ده باندي دغه امر کول واجب دی پرېښودل يې ورته نه ده روا، او که چيري يې ډېر ګمان داسي وو که دی ورته امر وکړي، نو هغوي به دته ښکنځل او سپکي وکوي، نو بيا يې پرېښودل ښه دي، همدا راز که يې باور وو چې دی وهي، او دی هم ورباندي صبر نشې کولای، او د دوي په مينځ کې دښمني پيداکيږي او د هغه څخه جنګ را پورته کيږي نو بيا يې پرېښودل ښه کار دی، خو که د ده په دې باندي باور وو چې که چيري دی ووهي نو صبر کولای شي او هيچاته شکايت هم نه کوي، نو هيڅ پروا نلري چې ددغه کار څخه يې منع کړي او دی په دې صورت کې مجاهد دی، او که پوهېدای چې دوي دده خبره نه مني او نه هم د دوي څخه د وهلو او ښکنځل کولو وېره شته نو بيا اختيار لري (که امر کوي اوکه يې نه کوي) خو امر کول يې ډېر ښه دی.

باالاخره په دې خبرې باندي يقين کول په کار دی چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر يواځې د علماؤو دنده نه؛ بلکې د هر مسلمان دنده ده.

## پایله

د پورته استدلال څخه دا معلومه شوه چې، هر څوک د خپلې پوهې او توان په اندازه کولای شي امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړي یا په بل عبارت تبلیغ وکړي.

د قرآن او احادیثو د عمومي فرمول له مخې او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په پرېښودلو باندې د سخت وعید او عذاب راتللو په سبب دا په ډاګه کېږي چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر د هر مسلمان دنده ده، البته ددې خبرې کول ضروري دې چې هره خبره او هره مسئله به لومړی انسان خپله سمه زده کوي بیا به یې نورو ته رسوي، که کومه مسئله یا کومه خبره چا سمه نه وي زده هغه دې همداسې نیمګړې نورو ته نه رسوي چې دا بیا نه یواځې دا چې ثواب نلري بلکې د انسان لپاره ګناه لري.

ځینو علماوو چې د تبلیغ کولو لپاره علم شرط بللي دی موخه یې دا نه دی چې مُبلِّغ به له مولوي یا مولانا تر مرتبې رسېدلی وي یا به خاص سند او مدرک لري او یا به هم په ناسخ او منسوخ خبر وي، بلکې موخه یې دا ده چې کومه خبره چې دې یې غواړي تر نورو یې ورسوي هغه به یې سمه زده وي یعني د هغې مسئلې عالم به وي، البته په ځینو سختو او مغلقو مسائلو کې هغه څوک ژور بحث کولای شي چې ژور فهم او پوره معلومات ولري، همداسې په هغو مسائلو کې چې د فقهاوو تر مینځ پکې اختلاف وي په هغو کې هم جامع او کلي بحث د هغو خلکو کار دی چې د بشري طاقت سره سم د مسائلو په ټولو جهتونو خبر وي.

دیادوني وړ ده چې په اجبار باندې د ښه کار عملي کول او له بد کار څخه خلک راګرځول یواځې د نظام کار دې په انفرادي ډول یې هیڅوک نشي کولای.

په دې هیله چې موږ ټول د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مهم مسئولیت وپیژنو، ټول یې د ځان دنده وبولو او په پوره توګه یې پر وخت او سمه سرته ورسوو.

## مأخذونه

قرآن کریم


١. تفسير قرطبى: شمس الدين قرطبى، (المتوفى ٦٧١ هـ. ق)، الناشر: دار الكتب المصرية – القاهرة، الطبعة الثانية: ١٣٨٤هـ. ق - ١٩٦٤ م، عدد الأجزاء: ٢٠ جزءا، (في ١٠ مجلدات)

٢. تفسير ابى سعيد: محمد بن محمد بن مصطفى، (المتوفى : ٩٨٢هـ. ق، المكتبة الشاملة)

٣. تفسير شعراوى: محمد متولى الشعراوى، (المتوفى : ١٤١٨هـ. ق، المكتبة الشاملة)

۴. تفسير ابن كثير: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشى الدمشقى، [ ٧٠٠ -٧٧٤ هـ. ق ] الناشر : دار طيبة للنشر والتوزيع، الطبعة : الثانية ١٤٢٠هـ. ق - ١٩٩٩ م

۵. تفسير مظهرى: محمد ثناء الله العثماني المظهرى، ناشر: مكتبة رشديه، المطبعة: باكستان دار إحياء التراث العربى، ببيروت، ١٤٢٥ هـ. ق ـ ٢٠٠٤ م، سنة الطبع : ١٤١٢ هـ. ق

٦. تفسير وجيز: أبو الحسن على بن أحمد بن محمد بن على الواحدى، النيسابورى، الشافعى، (المتوفى : ٤٦٨هـ. ق)

٧. تفسير مفاتيح الغيب: الإمام العالم العلامة والحبر البحر الفهامة فخر الدين محمد بن عمر التميمى الرازى الشافعى، دار النشر: دار إحياء التراث العربى ـ بيروت، عدد الأجزاء ٣٢.

٨. صحيح البخارى: محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخارى، أبو عبد الله (المتوفى : ٢٥٦هـ. ق). الناشر: دار ابن كثير، اليمامة – بيروت، الطبعة الثالثة، ١٤٠٧هـ. ق - ١٩٨٧م

٩. فيض القدير شرح جامع الصغير: زين الدين محمد المدعو بعبد الرؤوف بن تاج العارفين بن على المناوى، (المتوفى: ١٠٣١هـ. ق). الناشر: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان الطبعة الاولى، ١٤١٥هـ. ق - ١٩٩٤ م

١٠. سنن ابن ماجه: ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزوينى، (المتوفى : ٢٧٣هـ. ق). كتب حواشيه : محمود خليل، الناشر: مكتبة أبى المعاطى.

١١. السنن الكبرى للبيهقى: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقى، الناشر: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة فى الهند ببلدة حيدر آباد، الطبعة: الأولى ـ ١٣٤٤ هـ. ق، عدد الأجزاء، ١٠

١٢. صحيح مسلم: مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيرى النيسابورى، (المتوفى : ٢٦١هـ.ق)، الناشر: دار إحياء التراث العربي - بيروت

١٣. الناسخ والمنسوخ لابن سلام: القاسم بن سلام الهروي، سنة الوفاة: ٢٢٤هـ. ق عدد الأجزاء ١، الناشر: مكتبة الرشد – الرياض، الطبعة: الأولى

١۴. الجوهرة النيرة: أبو بكر بن علي بن محمد الحدادى العبادى اليمنى - الزَّبِيدِيّ (المتوفى: ٨٠٠هـ. ق

١۵. فتاوى هنديه: لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخى

١٦. بحرالرائق: زين الدين بن إبراهيم بن نجيم، المعروف بابن نجيم المصرى، (المتوفى: ٩٧٠هـ. ق)، الناشر: دار المعرفة، مكان النشر: بيروت